# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

قـوهٔ قضائیه

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي، نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۲۱ زمری ۱۴۰۲ هـ ش | ۲۶ محرم الحرام ۱۴۴۵ هـ ق | ۱۲ اګست ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۴۰)


## د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات: اسلامي امارت د ټولو مسلمانانو ګډ کور دی

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم الحرام میاشتې په ۱۴مه نېټه د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب د برتانیا هیواد د دیني علماوو له وفد سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات یادې ناستې ته چې د سترې محکمې قضائي معاون محترم شیخ محمد قاسم (راسخ) صاحب، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب، د سترې محکمې د مقام د دفتر عمومي رئیس محترم مولوي عبدالوکیل (حقاني) صاحب، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس محترم مولوي عبدالرحیم (راشد) صاحب ګډون درلود، په خپلو خبرو کې روښانه کړه چې اسلامي امارت د ټولو مسلمانانو ګډ کور دی.

محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب زیاته کړه، د کفارو دښمني له ټولو مسلمانانو سره ده، خو الحمدلله چې د الله تعالی په نصرت سره افغانستان له اشغال څخه خلاص شو، هڅه به کوو چې په ټوله نړۍ کې داسې حکومتونه رامنځته کړو چې د ټولو شرعي اصولو قائمولو ته ژمن اوسي.

دغه راز شیخ صاحب وویل، د افغانستان مجاهدین او ټول ولس د نړۍ په هر کونج کې له مسلمانانو سره محبت لري، ځکه چې ټول مسلمانان سره ورونه دي.

پر دې سربېره محترم قاضي القضات صاحب وویل، دا قرآني خبره ده چې د دنیا کفار له مسلمانانو سره دښمني لري او نه غواړي چې اسلام برلاسی شي، کفار هڅه کوي چې اسلام داسې ښکاره کړي چې خلک ترې متنفره شي، خو زموږ مسلمانانو مسؤولیت دادی چې نړۍ ته واضحه کړو چې اسلام د وروروړولۍ، مینې او محبت دین دی.

د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات صاحب تر تفصیلي خبرو وروسته د برتانیا هیواد دیني علماوو خبرې وکړې وویل، موږ ځکه افغانستان ته راغلي یو چې د دغه هیواد اصلي حالت وګورو او خپل د سترګو لیدلی حال د برتانیا له مسلمانانو سره شریک کړو.

دوی زیاته کړه، زموږ سره داسې دیني علماء هم شته چې د نړۍ د بېلا بېلو هیوادونو له مسلمانانو سره په اړیکه کې دي، دوی به هڅه وکړي چې د افغانستان اسلامي امارت رښتیني صورت وړاندې کړي.

هغوی څرګنده کړه چې په افغانستان کې د اسلامي امارت په حاکمیت سره د برتانیا مسلمان ډېر خوښ دي او د بقاء لپاره یې دعا کوي.

د برتانیا د دیني علماوو په خبره، دا واضح ده چې اسلامي امارت د یو شرعي نظام په توګه د ټولې اسلامي نړۍ لپاره یوه نمونه او د اقتداء کولو غوره بېلګه ده او د شرعي اصولو په تطبیق کې ساری نه لري.

یاده ناسته په ځینو نورو مهمو مواردو تر بحث وروسته د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات صاحب لخوا د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې رئیس محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب ننګرهار ولایت ته سفر وکړ

د پنجشنبې په ورځ (د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم الحرام میاشتې په ۱۷ مه نېټه) د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب ننګرهار ولایت ته د سفر پر مهال د یاد ولایت د مرافعه محکمې او ښاري ابتدائیه محکمې له قضائي او اداري کارکوونکو سره د مرافعه محکمې د غونډو په تالار کې وکتل.

د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات صاحب د یادې لیدنې پر مهال د مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو قضائي او اداري کارکوونکو د قضاء مسلک اړوند تفصیلي وینا وکړه او دوی یې خپلو دندو ته متوجه کړل.

شیخ صاحب د خپلو خبرو په جریان کې په محاکمو او دیوانونو کې د چارو پر شفافیت او قضائي چارو ته پر جدي پاملرنه ټینګار وکړ او د ناستې ګډونوالو ته په خطاب کې یې وویل، خپلو دندو ته پوره پابند اوسئ، له جدي ضرورت پرته غیرحاضري مه کوئ، د مراجعینو دوسیو او قضیو ته د اسلامي شریعت په رڼا کې رسېدنه وکړئ او له دوی سره ښه چلند کوئ.

د غونډې په پای کې د ننګرهار د مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت د محاکمو ضروریات او اړتیاوې د سترې محکمې له رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب سره شریکې کړې او ناسته د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات پکتیا ولایت ته سفر وکړ

د چهارشنبې په ورځ (د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم میاشتې ۱۶مه نېټه) د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم «حقاني» صاحب پکتیا ولایت ته د سفر پر مهال د دغه ولایت د مرافعه محکمې له قضائي او اداري منسوبینو سره د یادې محکمې د غونډو په تالار کې وکتل.

د غونډې په پیل کې د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس محترم مفتي امان الله «حقاني» د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات صاحب او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او پکتیا ولایت ته د دوی له سفره یې مننه وکړه.

قاضي القضات محترم شیخ «حقاني» صاحب د پکتیا ولایت د مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو قضائي او اداري کارکوونکو ته د محاکمو پر قضائي او اداري چارو رڼا واچوله، د محاکمو او نورو اړوند ادارو تر منځ پر همغږۍ، په محاکمو او دیوانونو کې د چارو پر شفافیت او قضائي چارو ته د جدي پاملرنې په اړه تفصیلي او ګټورې خبرې وکړې.

شیخ صاحب د ناستې ګډونوالو ته ټینګار وکړ چې تل د اصولو پابند اوسئ، که اصول مراعت کړئ، هیڅکله به له ستونزو سره مخ نشئ او د مشکل د رامنځته کېدو په صورت کې اصولو ته په کتو سره مشکل حل کړئ.

د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب تر تفصیلي وینا وروسته د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس محترم مفتي امان الله «منقاد حقاني» د پکتیا د محاکمو ستونزې له ښاغلي قاضي القضات صاحب سره شریکې کړې.

د ناستې په دوام د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس محترم مفتي حزب الله «ابراهیمي»، د پکتیا زون د نظامي ابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالهادي «همت» او د پکتیا ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي محمدرحیم «نعماني» خبرې وکړې او خپل نظرونه یې د ناستې له ګډونوالو سره شریک کړل.

یاده ناسته د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

### لیرو پرتو سیمو ته د قاضیانو او والیانو لېږل (دویمه برخه)

علي رضی الله عنه وايي: نو زه تل پر حق پرېکړه کوونکی پاته شوی یم او یا یې داسې وویل: ددې وروسته په هېڅ پرېکړه کې زه شکمن شوی نه یم. [رواه أبو داؤد، رقم(۳۵۸۳) باب کیف القضاء]

ابن اسحاق یو روایت ذکر کړی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو عبیده بن جراح رضی الله عنه نجران ته د قاضي په توګه ولېږی، کیسه داسې وه چې د نجران یوه پلاوي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وغوښتل چې د خپلو اصحابو له ډلې څخه یو داسې سړی را وغواړي چې له هغه څخه دی راضي وي، تر څو د دوی تر منځ په هغو مسایلو کې پرېکړه وکړي چې دوی اختلاف پکښې لري. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو عبیده رضی الله عنه راوغوښتی او ورته یې وویل:»د دوی سره ولاړ سه او په هغه څه کې چې دوی اختلاف لري، د دوی ترمنځ په حق سره پرېکړه وکړه«.[الإدارة في عهد الرسول صلي الله علیه وسلم(۲۳۹۱)].

او همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم عتاب بن اسید رضی الله عنه د مکې له فتحې څخه وروسته د مکې پر اوسېدونکو د والي او قاضي په توګه وګماری. او همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم علاء بن حضرمي رضی الله عنه ته د نجران د قضاء چارې وسپارلې او ده ته یې یو لوی لیک ولیکه چې د ولایت او قضاء ټولې چارې یې پکښې ورښوولې وې.

اخذلیک: تتمة النظام، ۳۳ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## د هلمند ولایت محاکمو په دوو اونیوکې د(۱۴۲) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۴۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپورکې له ۱۴۴۴/۱۲/۱۹ هـ ق څخه تر ۱۴۴۵/۱/۴ هـ ق پورې د هلمند ولایت د مرافعه محکمې،ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو حقوقي، جزائي اوتجارتي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې :**

په تیرو دوو اونیو کې ( ۱۲۵ ) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې، له دې جملې څخه ( ۹ ) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د( ۳۸ ) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوي، (۲۷) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تیرو دوو اونیو کې ( ۲۱۵ ) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې، له دې جملې څخه ( ۴ ) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د( ۳۸ ) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوي (۴۱) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي، دغه راز په یاده موده کې ( ۱۴ ) بېلابېل وثایق هم اجرا شوي دي.

## د فراه ولایت محاکمو د یوې میاشتې په جریان کې د (۴۵۵) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۴۴۴) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپورکې له ۱۴۴۴/۱۱/۲۱ هـ ق څخه تر ۱۴۴۴/۱۲/۲۵ هجری قمري نېټې د فراه ولایت د مرافعه محکمې، د ښاري ابتدائیه محکمې او د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د تېرو څلورو اونیو حقوقي او جزائي اجراآت شامل دی .

**په حقوقي برخه کې:**

په یاده موده کې د فراه ولایت محاکمو ته (۱۵۵) حقوقي دوسیې راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې .

له دې جملې څخه (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۱۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې نورې تر کار لاندې دي .

**په جزائي برخه کې:**

په یاده موده کې د فراه ولایت محاکمو ته (۲۴۵) جزائي دوسیې راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې .

له دې جملې څخه (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۴۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې نورې تر کار لاندې دي .

همدا راز په یاده موده کې (۴۴۴) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا شوې دي.

## طی یک ماه در محاکم ابتدائیهٔ زون های چهارگانهٔ شهری و طی دو هفته در محکمهٔ ابتدائیه تجارتی شهر کابل به تعداد (۱۰۲۸ ) دوسیه حل و فصل گردیده است

گزارش توحیدی از اجراآت یک ماههٔ بخش‌های جزائی و حقوقی محاکم ابتدائیه زون های چهارگانه شهری از تاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۱ هـ ق الی ۱۴۴۴/۱۲/۲۹ هـ ق و طی دوهفته در بخش تجارتی محکمه ابتدائیه تجارتی شهر کابل از تاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۱ هـ ق الی ۱۴۴۴/۱۲/۱۵ هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۴۵۳) دوسیه به دواوین محاکم ابتدائیه چهار زون شهر کابل مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده.

از آن جمله به تعداد (۱۴۵) قضیه فیصله شده، در مورد (۲۲۲) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده، (۱۰۶) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۴۰۸) دوسیه به دواوین محاکم ابتدائیه چهار زون شهر کابل مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده.

از آن جمله به تعداد (۳۸) قضیه فیصله شده، در مورد (۲۴۸) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده، (۲۲۲) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده است و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۵) دوسیه به دواوین الف، ب، بانکی و مالیاتی محکمهٔ ابتدائیه تجارتی شهر کابل مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده.

از آن جمله به تعداد (۱۳) قضیه فیصله شده، در مورد (۳) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده، (۳۱) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده است و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

## د خوست محاکمو د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې د (۲۷٤۸) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۲۱۷۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپورکې له ۱۴۴۴/۱/۱هـ ق څخه د ۱۴۴۴هـ ق کال تر پایه د خوست ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په ۱۴۴۴هـ ق کال کې د خوست محاکمو ته (۱٦٤٦) حقوقي دوسیې راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۳۵۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۹۷٤) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوي، (۳۱٤)دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په ۱۴۴۴هـ ق کال کې‌د خوست ولایت محاکمو ته (۱۳۳۲)جزائي دوسیې راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۱۳۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۹۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (٦٦٤) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (۲۱۷۹) بېلا بېل وثایق هم اجرا شوي دي.

## د اروزګان د مرافعه محکمې رئیس د چورې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې له قضائي او اداري کارکوونکو سره وکتل

په ۱۴۴۵/۱/۱۰ هـ ق نېټه د اروزګان ولایت د مرافعه محکمې د عمومي رئیس الحاج شیخ مولوي سخیداد(ابوالتقی) په مشرۍ د دغه ولایت د چورې ولسوالۍ په ابتدائیه محکمه کې غونډه ترسره شوه.

یاده غونډه چې د چورې ابتدائیه محکمې رئیس مولوي بلوخ صاحب، د یادې محکمې مفتي مولوي فیض الله صاحب او محرر مولوي اسد الله صاحب، ولسوال ملا سیدرسول (مسافر) صاحب، د قومندانۍ معاون حاجی خان صاحب، د استخباراتو معاون عبدالرحمن (منیر) صاحب، د مرافعه محکمې اجرائیه مدیر محب الله (نظري) صاحب، د ثبت اسناد او وثایقو مامور مولوي محمد(رهنما) صاحب او د حقوقو مدیر مولوي عبدالودود صاحب په کې ګډون درلود د مولوي محمد(رهنما) صاحب لخوا د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته محترم شیخ مولوي سخیداد (ابوالتقی) د چورې ابتدائیه محکمې رئیس، مفتي، محرر او نور مسؤولینو ته ښه راغلاست ووایه او مننه یې ځینې وکړه چې د خپل وطن او ولس د خدمت برخه کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي.

د اروزګان ولایت د مرافعه محکمې رئیس زیات کړه افغان ولس په تېره ۲۰ کلنه مبارزه کې له اسلامي امارت سره اوږه په اوږه ولاړ و او زموږ ستاسې خدمت یې کاوه؛ نو موږ مکلف یو چې نن یې خدمت وکړو او ولس خوشحاله وساتو چې په دې سره به خدای (جل جلاله) او رسول الله (صل الله علیه و سلم) هم له موږ راضي وي .

شیخ مولوي سخیداد (ابوالتقی) ټولو مسؤولینو ته سپارښتنه وکړه چې په خپل منځ کې اتحاد او اتفاق ولري، کوم مشکل چې مو منځ کې راغلی په اتفاق سره کښېنئ او هغه مشکل ته په همکارۍ د حل لاره پیدا کړئ، یو د بل په کار کې مداخله مه کوئ، هر مسؤول باید خپل مسؤولیت وپېژني او خاص د الله (جل جلاله) د رضا لپاره خدمت وکړي، په کوم کار کې چې د الله (جل جلاله) رضا، مینه او اخلاص وي نو ان شاءالله هېڅ وخت به ناکام نه شي.

د ارزګان ولایت د چورې محکمې رئیس او ټولو مسؤولینو د مرافعه محکمې د عمومي رئیس څخه مننه وکړه چې وخت پر وخت له یادې ولسوالۍ څخه لیدنه کوي وویل، ان شاءالله ستاسې ټولې سپارښتنې به عملي کوو.

د غونډې په پای کې د مرافعه محکمې رئیس حاضرۍ ته په پابندۍ، له مراجعینو سره په ښه چلند، په اجراآتوکې پر شفافیت او د فساد د مخنیوي په هکله جدي سپارښتنې وکړې او یاده غونډه د حقوقو د مدیر مولوي عبدالودود صاحب په دعا سره پای ته ورسېده.

## د لغمان د استیناف محکمې رئیس د دغه ولایت له یو شمېر ابتدائیه محاکمو لیدنه وکړه

د ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم الحرم میاشتې په ۷مه نېټه د لغمان ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس ښاغلي الحاج عبدالله (فرقاني) د لغمان ولایت د ښاري محکمې په ګډون د علیشنګ او دولت شاه ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د استیناف محکمې عمومي رئیس د یادو محاکمو حاضري، د هغوی اداري او قضائي کړنې له نږدې څخه ولیدې چې د هغوی سمې کړنې یې و ستایلې.

دغه راز د استیناف محکمې رئیس د یادو محاکمو مسؤولینو او منسوبینو ته د وینا پر مهال د ټینګار وکړ چې حاضرۍ ته پابند اوسي، د خلق الله کارونه په چټکتیا ترسره وکړي.

د استیناف محکمې رئیس زیاته کړه چې د قاضي په صفت دنده ترسره کول امتیاز نه؛ بلکې الهي امانت دی، دا باید منحیث د مسؤولیت قبول کړو ترڅو مو د اسلامي امت خدمت په صداقت او امانتدارۍ ترسره کړی وي او په اخرت کې موخپل رب (جل جلاله) له ځان څخه راضي کړی وي.

## رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت جوزجان از آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن بازدید بعمل آورد

به تاریخ ۱٤٤٥/۱/٥ هـ ق محترم مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت جوزجان از آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن آن ولایت بازدید بعمل آورد.

ابتداء جلسه بنام خداوند توانا آغاز گردید؛ سپس رئیس محکمهٔ مرافعه روی موضوعات چون تسلیمی وثایق بتاریخ معین آن، آمریت محترم مخزن طبق اصول مهر و لاک شود، در وثایق باید جدیت حاصل گردد، اجرای حصر وراثت باید دقیق بوده باشد، در وثایق تأخیر نشود، دقت کامل در تحریر قباله جات، نکاح خط ها باید دقت شود، رهنمود وثایق باید مدنظر گرفته شود و اطاعت به تمام اصول فرامین و متحدالمال های ستره محکمه بحث و تبادل نظر نمود.

وی همچنان افزود که در تحریر وثایق و قباله جات بسیار دقت شود؛ چون وثایق یک مرحله بوده قابل مسترد نمی باشد لهذا در وثایق کوشش شود که به وجه اصولی آن طی مراحل و ترتیب گردد و جلسه و بازدید با دعائیه خیر و فلاح مردم آن ولایت خاتمه یافت.

## جلسهٔ قضائی و اداری محکمه مرافعه ولایت بغلان دایر گردید

جلسهٔ قضائی و اداری محکمه مرافعه ولایت بغلان قبل از ظهر شنبه مؤرخ ۱٤٤٥/۱/۱۲ هـ ق تحت ریاست مولوی محمد یوسف «ابوالوفاء» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه با اشتراک قضات، مفتیان و محررین محاکم استیناف، شهری و ولسوالی های (۱۴) گانه در مقر ریاست محکمهٔ مرافعه برگزار گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چندی از کلام الله مجید توسط مولوی محمد رجب «فاروقی» مفتی دیوان جزای عمومی محکمهٔ مرافعه آغاز گردیده؛ سپس رئیس محکمهٔ مرافعه با قضات محاکم آن ولایت روی موارد ذیل صحبت نموده و به مسؤولین محاکم هدایات ذیل را نمود:

هرگاه از یکی از طرفین دعوی توسط قاضی صاحب استعلام میگردد، استعلام متذکره با جوابات ارایه شده ضم دوسیه گردد.

شکلیات استعلام و یا پیشنهاد واستهداء تحریر شده همانند مکتوب نباشد؛ بلکه هر یک از خود شکلیات جداگانه دارد که باید رعایت گردد، استهداء، استعلام و پیشنهاد باید به شکل مکتوب تحریر نگردد.

استفتاء قاضی به شکل رسمی نوشته شود، بعداً از مفتی صاحب طلب فتواء نماید و مفتی باید فتوای خود را به شکل رسمی تحریر نماید و هر دو را باید درج فیصله نماید و فتوای مفتی صاحب باید بر دو نقل مشتمل باشد، یک نقل آن ضم دوسیه نموده و نقل دیگر آن در فایل جداگانه در محکمه نگهداری کند.

متحدالمال های که از ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه مواصلت میورزد باید پرنت کنید و در فایل جداگانه در محکمه نگهداری نمایید و بالای آن عمل کنید.

اگر مطمئن شدید که دوسیه تحت بررسی از صلاحیت حوزوی محکمهٔ مربوطه نمی باشد باید قرار عدم صلاحیت خویش را مستدل با دلائل صادر نموده دوسیه را از اندراج اخراج نمایید.

هر زمانیکه مکاتیب از اداره شما صادر میگردد، باید بر علاوه امضاء قاضی صاحب موظف مهر هم گردد، که اکثریت مکاتیب هنگام مواصلت به مرافعه بدون مهر میباشد که باید رعایت گردد.

فیصله های محاکم ابتدائیه بنابر نواقص اداری و یا قضائی از طرف محکمهٔ مرافعه نقض میگردد و غرض اصلاح آن به محکمهٔ مربوطه ارسال میگردد، میبایست فیصله مجدد خویش را با درنظرداشت رفع نواقص ذکر شده صدور نموده، فیصله اولی و دومی را ضم دوسیه نموده ارسال نمائید.

مکاتیب که در محکمه مواصلت میورزد و جواب خواه میباشد بعد از ملاحظه شد به اسرع وقت بالای آن اجراآت لازم گردد.

هر یک از مسؤولین قضائی و اداری محاکم مراتب تشکیلاتی خویش را رعایت نمایند تا از هرج و مرج و بی‌نظمی در اداره جلوگیری گردد.

وقتی که در دعوی حقوقی و یا جزائی مدعی علیه متعدد میباشد و یکنفر از مدعی علیه نظامی است صلاحیت رسیدگی دوسیه ایشان مربوط محکمهٔ نظامی بوده، این موضوع باید رعایت گردد.

هرگاه فیصله جات که مدت استیناف خواهی و یا تمیزطلبی آن سپری شده باشد مطابق هدایت متحدالمال نمبر (۳۰) دارالانشاء ستره محکمه بغیر از امر تطبیق ریاست عالی تمیز تطبیق نکنید.

مسؤولین محاکم باید با اصحاب دعوی و مراجعین از سلوک و رفتار اسلامی و انسانی مطابق اصول و شرعت کار بگیرند تا مردم از محاکم و نظام امارت اسلامی متنفر نشوند.

نواقص که محکمهٔ مرافعه در فیصله های محاکم تحتانی میگیرد، باید بالاستیعاب همه نواقص بگیرد و به نواقص اساسی فیصله زیاد توجه کند.

اوقات رسمی را رعایت نمائید، بدون عذر معقول غیر حاضری و یا رخصت اخذ ننماید؛ چون مردم از ما امیدی دارند.

به اساس هدایت متحدالمال نمبر (۲۷) دارالانشاء ستره محکمه قضات محاکم باید خانه های خود را در جای مسؤولیت وظیفه خویش انتقال دهند تا از بروز غیرحاضری و سکتگی در اجراآت جلوگیری بعمل آید.

محاکم ابتدائیه فیصله های خود را به دقت، خالی از نواقص و مطابق اصول صادر نمایند؛ تا از طرف محکمهٔ مرافعه ضرورت به نقض آن نشود.

در اخیر قضات محاکم مشکلات های که داشتند را با رئیس محکمهٔ مرافعه شریک ساختند که در مقابل از طرف رئیس محکمهٔ مرافعه برای حل مشکلات شان رهنمائی های اصولی و ارزنده به مسؤولین محاکم متذکره ارایه گردید و جلسه به دعائیه مفتی عبدالرحیم «معرفت» رئیس دیوان امنیت عامه محکمهٔ شهری خاتمه یافت.

## دکونړ مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ اداري ناسته ترسره شوه

د سه شنبې په ورځ (د ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم د میاشتې په ۱۵مه نېټه) دکونړ ولایت د مرافعه محکمې د رئیس محترم الحاج مولوي عزیز الرحمن «حقاني» په مشرۍ د محاکمو ریاست د غونډو په تالارکې د قضاتو اداري غونډه ترسره شوه .

غونډه د قرآن عظیم الشان د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروپسې د مرافعه محکمې رئیس الحاج مولوي عزیز الرحمن حقاني د غونډې په ارتباط او د غونډې په اهمیت تفصیلي خبرې وکړې او قضات یې لا ښه خدمتونو ته وهڅول.

پر دې سربېره د ناستې په اجنډا کې د شاملو لاندې مواردو باندې هراړخیزې خبرې وشوې:

په قضائي اجراآتو کې سرعت او د موضوعاتو حل وفصل کول د اسلامي شریعت د اصولو مطابق.

د میاشتني، ربعوار او کلنیو راپورونو صحیح ترتیب او په خپل وخت تسلیمول.

د میاشتنیو راپورونو ترڅنګ په صحیح ډول د قضایاوو د ثبت فورمونو خانه پري او په خپل وخت تسلیمول.

حاضرۍ ته پابندي، له مراجعینو سره احسن سلوک ، په اجراآتو کې شفافیت او مراجعینو ته د استانتیاوو برابرول.

چې په ذکر شویو مواردو کې د غونډې ګډونوالو ته جدي لارښوونې، سپارښتنې او هدایات وشول تر څو خپل ورځني کارونه د اسلامي شریعت د اصولو په رڼا کې پرمخ یوسي.

دغه راز د غونډې په دوام د مرافعه، ښاري او ابتدائیه محاکمو رئیسانو په نوبت خپل کلني راپورونه په اجمالي ډول وړاندې کړل او ترڅنګ یې هر یوه د خپلو محاکمو د ضرورتونو په اړه د مرافعه محکمې محترم رئیس صاحب ته خپل وړاندیزونه وړاندې کړل چې هم مهاله ځینو وړاندیزونو ته رسېدنه وشوه او پاتې به یې ان شاء الله په راتلونکې کې حل او فصل شي.

یاده ناسته د ښاري محکمې د رئیس محترم مولوي محمد ایوب « قلم » په دعائیه کلماتو سره پای ته ورسېده.

## جلسهٔ اداری محکمهٔ مرافعه ولایت فاریاب دایر گردید

به تاریخ ۹ ماه محرم الحرام سال ۱٤٤٥ هـ ق تحت ریاست مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب با اشتراک مولوی نعمت الله «ذاکر» رئیس دیوان جزاء مرافعه، مولوی عبدالکریم «ابوطیب» رئیس دیوان امنیت عامه مرافعه، مولوی محمد یوسف «عطائی» رئیس دیوان مدنی مرافعه، مولوی غلام علی رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، مفتی صاحبان و اعضائی قضائی دواوین مرافعه، شهری، محاکم ابتدائیه ولسوالی ها، آمریت تحریرات و کارمندان مالی واداری مرافعه در تالار جلسات علنی ریاست محکمه مرافعه جلسهٔ اداری دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چندی از کلام الله مجید توسط مولوی عبدالکریم «ابوطیب» آغاز گردید؛ سپس رئیس محکمهٔ استیناف هدایات لازم برای رؤسای دواوین مرافعه و محکمهٔ ابتدائیه شهری، قضات ولسوالی ها و محررین ارائیه نموده افزود، بخاطری شریک نمودن مشکلات و پیشنهادات و دریافت راه حل برای آن جلسات اداری در هر ماه دایر میگردد و هدف از تدویر جلسات اداری اطاعت و تسریع روند اجراآت، رسیدگی به مشکلات و عرایض مردم است؛ زیرا منصب قضاء یک مسؤولیت بزرگ است که بدوش شما است و سعی نمائید تا عدالت به وجه احسن آن تطبیق و حق هیچ شخصی ضایع و تلف نگردد.

موصوف افزود، الحمدلله همهٔ شما علماء هستین، علماء جایگاه خاصی در بین مردم دارند، باید برخورد و سلوک نیک صورت گیرد و کدام موضوعات که در جلسات اداری تصمیم گرفته میشود باید به آن عمل صورت گیرد و در ضمن روی موارد ذیل بحث و تبادل نظر صورت گرفت:

از اینکه سال ۱٤٤٥ هـ ق شروع شده و طبق متحدالمال های ریاست عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه باید عموم اجراآت از قبیل وارده و صادره، رسیدات، اندراج حقوقی و جزائی از کتاب های جدید کار گرفته شود و سوابق به صورت منظم ترتیب و نواقص رفع و به جای محفوظ نگهداری شود.

در مورد اجراء وثایق محاکم محترم و آمریت وثایق بسیار دقت نمایند تا اجراآت خویش را مطابق رهنمود وثایق که از طرف مقام عالی تکثیر یافته برابر نمایند.

دوسیه های که از جانب محاکم فیصله میگردد باید مطابق اصول شرعی بوده و برای جانبین بصورت درست ابلاغ و تفهیم صورت بگیرد تا از سرگردانی اصحاب دعاوی جلوگیری شود.

در مورد ثبت فورمه های دیتابیس و ثبت سیستم قضایای با کارمندان ثبت قضایای همکاری نموده و راپور آنرا به وقت معین ارسال نمائید.

همرای مراجعین وعارضین برخورد و سلوک نیک صورت بگیرد و از منکرات دوری نموده و بخاطری تطبیق شریعت اسلامی و اصول امارت نهایت تلاش خود را داشته باشیم و جلسه بعد از استماع نظریات و پیشنهادات شاملین با دعائیه خیر و فلاح ملت خاتمه یافت.

## دکندهار ولایت د محاکمو د مسؤولینو ترمنځ غونډه ترسره شوه

د سه شنبې په ورځ (۱۴۴۵/۱/۱۵هـ ق) نېټه دکندهار ولایت د مرافعه محکمې د رئیس محترم شیخ مولوي عبدالغفار(بحر)صاحب په مشرۍ د یاد ولایت د محاکمو اړوند دېوانونو د رئیسانو غونډه ترسره شوه.

غونډه د ترافیکو دېوان د رئیس محترم مولوي تاج محمد صاحب لخوا د قرآنکریم د خومبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، وروسته محترم شیخ عبدالغفار(بحر) صاحب وینا وکړه وویل، ښاري ابتدائیه محکمه انتقال چې مخکې یې په عینو مینه کې موقعیت درلود، انتقال یې د مرافعه محکمې او تمیز عالي مقام څنګ ته ډېر نیک او ګټور عمل دی، ځکه اوس یادې محکمې ته د مراجعینو د تګ راتګ او له مرافعه محکمې او تمیز څخه د ښاري محکمې د لرې واټن ستونزې حل شوې.

دغه راز محترم بحر صاحب زیاته کړه چې د مراجعینو لپاره د بعضې سهولتونو د ایجاد لپاره دجنوب غرب زون تمیز عالي مقام دمحترم رئیس صاحب او د کندهار ولایت محترم والي صاحب د همکارۍ ژمنه کړې ده چې په یاده محکمه کې به نارینه او ښځینه مراجعینو لپاره تشنابونه او د اوداسه ځایونه جوړکړي اود مراجعینولپاره د سهولت برابرولو پر یولړ نورو لارو چارو هم بحث وشو.

پر یادو مواردو سربېره د ځینو قضائي او اداري موضوعاتو په اړه هم د ناستې ګډونوالو خبرې وکړې او په اړه یې لازم تصمیمونه ونیول شول.

غونډه ددعا په ویلو پای ته ورسېده.

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله


د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشتکې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې د قضاء مجلې مينه والو ته!

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضاء مجلې لومړۍ ګڼه چې د بېلا بېلو مهمو ليکنو سربېره په کې د سترې محکمې د ۱۴۰۱ هـ ش کال د لاسته راوړنو خلاصه هم ځای شوې تازه له چاپه راووته.




## دکابل ولایت محاکمو د ۱۴۰۱ هـ ش کال په جریان کې د (۱۵۵۶۱) قضیو پر حل او فصل سربېره (۳۰۱۴۵) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.




## د سترې محکمې د نظامي محاکمو معاون د يوه پلاوي په مشرۍ (۴) ولايتونو ته سفر وکړ

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم الحرام میاشتې په ۶مه نېټه د سترې محکمې د نظامي محاکمو معاون محترم شیخ خیرجان خیرخواه صاحب د یوه پلاوي په مشرۍ چې په تشکیل کې یې د نظامي منسوبینو دیوان مفتي، محترم مفتي حیات الله صاحب، د نظامي منسوبینو دیوان محرر محترم مولوي عبدالباقي صاحب او محترم مولوي صفي الله (الهام صاحب) موجود وو، بلخ، بدخشان، کندوز او تخار ولایتونو ته سفر وکړ.

د سترې محکمې د دغه لوړ رتبه پلاوي د سفر عمده موخه په ولایتونو کې د نظامي محاکمو د ځانګو جوړول و چې د یادو ځانګو د جوړېدو په نتیجه کې به د زون د محاکمو او ولایتي محاکمو د ځانګو ترمنځ همغږۍ لا تقویه او چارې به یې چټکې شي.

د سترې محکمې د نظامي محاکمو د مرستیال په مشرۍ دغه پلاوي د بدخشان د نظامي منسوبینو دیوان څخه ځانګه جوړه کړه؛ دغه راز د بلخ ولایت د نظامي محکمې زون اړوند سرپل، جوزجان او فاریاب ولایتونو کې د نظامي محاکمو ځانګې جوړې کړې، چې د منظورۍ وروسته به خپل کارونه روان کړي.

د سترې محکمې د نظامي محاکمو معاون محترم شیخ خیرجان خیرخواه صاحب او ورسره مل پلاوي د خپل سفر پر مهال د کندوز او بدخشان ولایتونو د والي صاحبانو په ګډون د نورو اړوند ولایتي ادارو له مسؤولینو سره هم وکتل، یادو ولایتي مسؤولینو د سترې محکمې له دغه لوړ رتبه پلاوي مننه وکړه چې د نظامي محاکمو د چارو د لا بهبود او چټکتیا لپاره یې دغه ولایتونو ته سفر وکړ.

پر دې سربېره د سترې محکمې د یاد پلاوي غړو د بدخشان او بلخ ولایتونو د مرافعه محاکمو له رئیسانو او نورو قضائي غړو سره هم ولیدل، د دوی ستونزې او نظریات یې واورېدل او د محاکمو د چارو د لا ښه والي په موخه یې د سترې محکمې د مسؤولینو د هر ډول توجه او ملاتړ ډاډ ورکړ.

د محترم شیخ خیرخواه صاحب په مشرۍ دغه پلاوی له خپل پنځه ورځني سفر وروسته د ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم میاشتې په ۱۰ مه نېټه بېرته خپل کاري ځائی ته راستون شو.

## در ولایت تخار بالای دو تن از متهمین فعل زنا حکم جزای تعزیری تطبیق شد

روز جمعه (به تاریخ ۱۸/محرم الحرام/۱٤٤٥ هـ ق) طبق فیصلهٔ شرعی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت تخار و قرار نظامی شماره (ع ١٤١خ٢٤) مؤرخ ١٤٤٤/١٢/٢٠ هـ ق) ریاست عمومی محترم یوان جزاء ستره محکمه، بالای دو تن از متهمین فعل زنا جزای تعزیری تطبیق شد .

در گردهمایی که بخاطری تطبیق حکم جزای تعزیری بالای مجرمین مذکور در شهر تالقان راه اندازی شده بود، مسؤولین ادارات ولایتی، علماء کرام و اهالی شهر تالقان حضور داشتند.

## د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ اداري غونډه ترسره شوه

د پنجشنبې په ورځ (د ۱۴۴۵ هجري قمري کال د محرم الحرام میاشتې په ۱ مه نېټه) د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ د مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو د مسؤولینو ترمنځ اداري غونډه ترسره شوه.

ناسته د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې رئیس ښاغلي مولوي عبدالکریم (حقاني) د غونډې ټولو ګډونوالو ته د ښه راغلاست ویلو تر څنګ د اداري ناستو په اهمیت خبرې وکړې او د اطاعت د اهمیت په باب یې تفصیلي وینا وکړه.

د مرافعه محکمې رئیس د اسلامي امارت د هرې پالیسۍ اطاعت مهمه فریضه یاده کړه وویل، دا چې اسلامي امارت د زیاتو قربانیو په پایله کې حاکمیت ترلاسه کړی؛ بناءً زموږ او ستاسې دا مسؤولیت دی چې د نظام د استحکام او ثبات لپاره له هرې ممکنه لارې وکولای شو چې خپل ملت د اسلامي امارت د فعلي نظام همکارۍ ته دعوت کړو او هر چاته واضحه کړو چې د اسلامي امارت له پالیسیو سرغړونه که په هر نوم وي بغاوت دي او د بغاوت مخه باید ونیول شي او د دنیوي او اخروي اضرارو یې خبر کړو.

په ورته وخت کې ټولو محترمو قضاتو د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې رئیس ښاغلي مولوي عبدالکریم (حقاني) صاحب ته ډاډ ورکړ چې د خپلې سپېڅلې دندې په ترسره کولو سربېره به د اسلامي نظام د استحکام لپاره کار کوي او خلک به د اطاعت په اهمیت پوهوي.

یاده غونډه د دعائیې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

## د حقوقو ریاست د عمومي رئیس په مشرۍ د یاد ریاست د چارو د بهبود په موخه اداري ناسته ترسره شوه

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د محرم الحرام میاشتې په اتمه نېټه د حقوقي ریاست د عمومي رئیس محترم مفتي محمدابراهیم جان (ابوالحفاظ) په مشرۍ د یاد ریاست اړوند تېرو چارو د ارزونې او راتلونکو کارونو د بهبود په موخه اداري ناسته ترسره شوه.

په یاده ناسته کې چې د حقوقو عمومي ریاست د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه د حقوقي عمومي ریاست غړو، د کابل ولایت د حقوقو رئیس، د یاد ریاست امرینو، مدیرانو او کارکوونکو ګډون درلود.

ناسته د قرانکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د ناستې ګډونوالو په هغو لارو چارو تفصیلي خبرې وکړې چې ورسره د یاد ریاست اړوند مراجعینو کارونو ته په احسنه توګه رسېدنه کېږي.

دغه راز د غونډې ګډونوالو د حقوقو ریاست د چارو د لا ښه والي، غوره مدیریت، مراقبت، نظارت او انسجام په اړه له یو بل سره ګټورې مشورې شریکې کړې.

یاده ناسته د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳